
# دبزگرلور



Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غوايي لاندی

لاس و پښـــې چـــاودي مـــخ ســـپېره شـــونډي وچـــي يـــو کـــوچنی پېښی غـــنم يـــې پـــر شـــا را اړولـــي وو او پـــه ســـتمي د کـــور پـــر لـــوري را روان دی، بشـــپړي نهـــه مياشـــتي يـــې خـــواري کښـــلې ده او منتونـــه يـــې وړي دي، تـــر څـــو چـــي پـــه اخـــري دوبـــي (۹۰) منـــه غـــنم لـــه بزګـــرۍ نـــه ورغلـــل پـــه دې کـــي يـــې (۹) منـــه غـــنم ملاصـــاحب تـــه زکـــات ورکـــړل، (۳۰) منـــه يـــې پـــش تـــه ورکـــړل او څلـــور منـــه هـــم (رقبـــه) ترپـــنـــه يـــوړل، (۲۰) منـــه يـــې د هغـــو دوو زرو افغـــانيو پـــه ســـود کـــي ورکـــړل کـــومي چـــي د ده د پـــلار د مـــرګ د خيـــرات او اســـقاط لپـــاره د يـــوه ســـودخور نـــه پـــه شـــپېته منـــه ګټـــه راوړي وې، پـــه کـــور کـــي د ده ماينـــه او مـــور او څلـــور ماشـــومان د ده لاره څـــاري او ماشـــومان يـــې لـــه کـــوره راوتلـــي او د هغـــې لاري خواتـــه پـــه ډېـــره اســـره ګـــوري، پـــر کومـــه لاره چـــي د دوی پـــلار اوس کورتـــه راځـــي او د رشـــې غـــنم راوړي، د ده مـــور او مـــاينې د ســـږ کـــال د محصـــولاتو پـــه شـــاوخوا کـــي خـــورا ښـــې خـــوږې کيســـې کـــولې او هيلـــه يـــې وه چـــي ګـــونـدي ســـږ بـــه يـــو څـــو ورځـــي پـــه نـــس مـــاړه ســـي، پـــه دې وخـــت کـــي ماشـــومان يـــو پـــه بـــل پســـې د کـــور لـــوري تـــه راځغلي او ناري وهي چي بابا راغی او غنم يې په شا دي.

بزګـــر هـــم پېټـــی پـــه شـــا پـــه کـــور راننـــووت او پېټـــی يـــې د خـــوني لـــه مخـــه کښـــېښـــود، مـــور او مـــاينې پـــه الوتـــو بـــنو ترپـــنـــه د رشـــې احـــوال پوښـــته چـــي پـــه دې وخـــت کـــي يـــو ســـړی تـــرازو او کـــاني پـــه لاس پـــه انګـــړ راکښـــېووت او پـــه کلـــک ږغ يـــې ورتـــه وويـــل چـــي: "تـــا خـــو ويـــل پـــر راشـــه بـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غنم د پور په عوض کي درکړم او تا ټوله غنم خپل کورته راوړل، خان صاحب په قهر وو، ويل يې چي دا څلور پنځه مياشتي کېږي چي تا نه (کورغم) ورکړی او نه دي (سړي غم) ادا کړی دی، روپۍ خو نه لرې ژر شه غنم راوتله، مور يې چيغي کړې چي دا څو دانې چي ته يوسې نو موږ به څه خورو، ده ورته وويل خاوري!".

سم د لاسه يې اندی راواړاوه او ټوله غنم يې ځيني وتلل او په پای کي يې لا نور هم پسې په قهر خوار بزګر ته وويل چي: "دونه منه خو لا نور هم دربانديِ پاته سول هغه به څرنګه سي".

خوار بزګر په داسي حال کي چي له ځواشينۍ نه يې پر ستوني درد وو، تش جيوال و ځانده او يوې خوا ته يې کښېښود.

ماشومانو وژړل او په ژړا ژړا کي يې وويل چي: "موږ خو وږي وو، تاسي خو به يوه لپه نيني راکولې، د ماشومانو انا د باندي ولاړه او يو څه شفتل يې په پلو کي راوړه او له مالګي سره يې له ماشومانو سره وخوړه، خو ماشومان په دې تر ډېري مودې قانع نه سول او د ډوډۍ لپاره يې په ژړا پيل وکړ.

خوار بزګر ته اوس د کلي ګاونډيانو پور هم نه ورکاوه، ځکه له يوې خوا د ده ګاونډيانو هم دغه راز د ناداری تکليف درلوده، له بلې خوا ده چي پر راشه باندي يو دوې کاسې اوړه ترېنه پور کړي وو هغه يې بېرته نه وو ورکړي، او خپل اعتبار يې بايللی و، نو وروسته له هغه چي ډېر فکر يې وکړ، له ځانه سره يې فيصله وکړه چي د يوي غويي چي د ده وروستنۍ او يواځنۍ دا رايي وه د هغه په مرسته يې د خلګو بزګري کوله د عيال دقوت او لايموت لپاره حلال کړي او په خپله سترګي نهامي کړي په دې خصوص کي يې د مور او مايني رضايت هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخيست او د يوې غويي يې حلال کړ چي د عيال د ژمي او مني قتغ سي او په خپله لخي پښې پړانګي پړانګي کالي بلي منطقې له د خوارۍ او مزدورۍ لپاره ولاړ.

ده په يوه توده منطقه کي شپږ مياشتي د خاورو او ختو مزدوري وکړه، ده ته يې د ورځي شپږ افغانۍ ورکولې، چي درې افغانۍ يې په سپوره ډوډۍ خوړلې او درې افغانۍ يې د کور لپاره سپمولې، په پای کي د ده ټوله ګټه (۴۲۸) افغانۍ سوه، چي په (۳۰۰) افغانۍ يې ځانته پڼې او کوچنيانو ته يو يو کميس واخيست، دی شپږ مياشتي په کور خبر نه وو، او په خورا بيړه او ښه زړه د کور لوري ته راروان سو چي د کور په وره راننووت او لوز او ماينې يې چيغې کړې.

وروسته ورته ښکاره سوه چي مور او درې ماشومان يې د سکاروي په اثر په مني لا مړه سوي دي، يو ګړی وروسته د کلي ملک وروغوښت او ورته يې وويل چي: "ستا د مور او ماشومانو کفنونه مي ورکړي دي چي قيمت يې (۴۳۳) افغانۍ کيږي او هم مي ستا پر ځای په دې شپږو مياشتو کي (۱۲۳) افغانۍ د (کورغم) او (سړي غم) پرې کړې دی، تا خو ځان نهام او خپلې مېلې دي کولې، ټول غمونه دي پر موږ راايله کړي وو، اوس دستي زما پور چي (۷۴۲) افغانۍ کيږي راکړه" ځکه چي ده دا ټول رقم پر يو ځای نه شو تاديه کولای نو محکمې ته يې کښېکړ او بندي شو چي بيا د دې خوار او د ده د کالۀ احوال چا وا نه خيست[۱۰]

«۱۳۳۰» ش کال ۱۹۵۱ ع کال

---

[۱۰] اوسني ليکوال لومړی ټوک

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**